اطلاعاتو ته د لاسرسي کمېسیون نوبتي غونډه

| | |
|---|---|
| نېټه | ۱۳۹۹کال د زمري ۲۵مه |
| ځای | اطلاعاتو ته د لاسرسي کمېسیون دفتر، کابل، افغانستان |
| د غونډې رییس | د کمېسیون رییس ښاغلی عین الدین بهادري |
| ګډونوال | د کمېسیون مرستیاله او کمېشنره آغلې نجیبه مرام، کمېشنره آغلې زهرا موسوي، کمېشنر او منشي ښاغلی حمدالله ارباب او د دارالانشا رییس ښاغلی عصمت الله حیدري |
| د غونډې تنظیموونکی | محمدحسن پویا |

اطلاعاتو ته د لاسرسي کمېسیون غونډه چې ۱۳۹۹کال، د زمري په ۲۵ د پورته ګډونوالو په شتون کې جوړه شوې و. په لاندې موضوعاتو بحث او د اندونو تبادله وشوه:

۱. **د مراجعینو لپاره ناشتا:** اطلاعاتو ته د لاسرسي کمېسیون غړو په مختلفو سطحو کې د میلمه پالنې د څرنګوالي په تړاو بحث وکړ او د رایوو په یووالي سره داسې هوکړه وکړه شوه چې له دې څخه وروسته د میلمه پالنې لپاره ښه چای، چاکلیټ، او بسکویټ تیار او په غونډو کې ورته وویشل شي. سربېره پر دې ټینګار وشو چې د فوق العاده غونډو د جوړېدو په صورت کې د پروګرام جوړونکي یوه ورځ مخکې د ناشتا او ډوډۍ سکالو د خدماتو له امر سره شریکه او اړین مستندات د ورته برابر کړي.

۲. **د میلمنو خدمت کول:** د کمېسیون غړو ټینګار وکړ چې د ښځینه او نارینه رسمي خدمتي کارکوونکو ته د رسمي او ځانګړې یونفورم جوړ شي تر څو له نورو کارکوونکو او مراجعینو سره یې توپیر وشي او اړین خدماتي کارونه په سم ډول تر سره کړي

۳. د کمېسیون مرستیالې ته د وجه سردستي مالي لګښت د صلاحیت تفویض: د کمېسیون د عاجلو اړتیاوو ته په کتو د وجې سردستي لګښت په اړه اطلاعاتو ته د لاسرسي کمېسیون مرستیالې آغلې نجیبې مرام اندونو په وړاندې کولو، د کمېسیون غړو هوکړه وکړه چې د کمېسیون د رییس او د دارالانشا رییس د مالي صلاحیت تر څنګ د وجه سردستي د لګښت صلاحیت آغلې مرام صاحب ته هم تفویض شي.

۴. **ولایتي سفرونه:** په دې ناسته کې د ولایتونو په کچه د پوهاوي پروګرامونو جوړول په اړه خبرې وشوې. د پروګرامونو د ښه جوړېدو او د سیمه ییزو ارګانونو خپلواکې اداري سره په مکتوبي ډول همغږي وشي تر څو د کمېسیون کارکوونکو ته استوګنیز، امنیتي، ترانسپورټي او د غونډو لپاره صالون په پار اسانتیاووې برابرې کړي.

۵. **د امانت پروژې سلاکاران: د یو اس‌اه‌آی‌دی** دفتر د امانت پروژې دننیو او بهرنیو کارکوونکو سره د کمېسیون د غړو او د دارالانشا ریاست د غونډې پر بنسټ، یاد دفتر ژمنه وکړه چې دوه کسه سلاکاران، اطلاعاتو ته د لاسرسي کمېسیون د بشري سرچینو او د سازماني ظرفیت لوړتیا په پار ګماري. څکه نو د کمېسیون مشرتابه موافقه وکړه چې دوه سلاکارن؛ د پالیسۍ او پلان سلاکار او د حقوقي ظرفیت جوړونې سلاکار د امانت پروژې ته وړاندیز شي تر څو د خپلو دننیو کړنلارو پر بنسټ یې اعلان او وګماري.

٦. **د کمېسيون عمومي غونډه:** په دې ناسته کې پرېکړه وشوه چې يو عمومي غونډه د کمېسيون د ټولو کارکوونکو په شتون کې په تالار کې جوړه شي تر د کمېسيون رييس ښاغلی عين الدين بهادري، مرستياله آغلې نجيبه مرام او ټول کمېشنران د کار ښه پر مخ وړلو لپاره خپل اندونه وړاندې کړي.

درنښت



د کمېسيون رييسعين الدين بهادري

د کمېسيون مرستياله نجيبه مرام

د کمېسيون منشي ښاغلی حمدالله ارباب

د کمېسيون کمېشنره زهرا موسوي

خانه چهارم، سرک ششم قلعه فتح الله، شهر کابل، کابل، افغانستان
www.askforinfo.af www.aic.gov.af info@aic.gov.af ۰۰۹۳(۰)۷۸۹۶۰۵۹۷۳